مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهاند دوکتورم.ا. زیار ۲۰۱۸/۰۸/۰۵

د پښتو ژبدوديز (ګرامري) حالتونه
يا
(پښتونومپېرونه (اسمي حالتونه)
(The Pashto nominal cases)

اوتريش مېشتی کامران منګل د نوي پښتني پښت له هغو ځوانو پوهنتوني زدکړيالو څخه بلل کېږي چې د نومهالي ژبني ساينس (پسرغښتي ژبپوهني) زدکړې ته يې رادانګلي او هغه هم دخپلې مورنۍ-پلرنۍ پښتو د سرڅنې او سيالۍ په موخه.

ماته يې داهوډو هڅه تر نژدې يوه کلنو برېښليکونواو پرلپسې اښتنو پو ښتنو راروسته چې خپله نومهالي (پښتوپښويه) يې راباندې راتکراروله، متې باوري وبرېښېده، په تېره بيا چې ليکنې يې تر ووبپاڼو راورسېدې. که نه تر پرو نه مې داسې انګېرله چې د نورو جلاوطنوغوندې يې دکوربه هېواد د ژبې په زدکړوځې کې د خپلې مورنۍ پښتوګرامري رغښت ته پام وراو ښتی. يا ښايي،دی هم پر خپل وار د ښاغلی سرور وکيلي غوندې بې له دې چې په اړو نده پوهنتوني ځا نګه کې پرلغښتو(سستماتيکو) ژبپوهنيزو زدکړو ته ملا وتړي، يو بل ګرامر يا په ناکره نامه ((ژبدود)) له الماني هغه څخه پښتو ته راواړوي- کټ مټ، لکه زموږ دوديزو استادانو چې عر بي (صرف ونحو) يې د ((پښتوګرامر)) په نامه راژباړلي او له ښوو نځيو تر پو هنځيو او ان ((پښتو کورسونو)) پورې يې ورباندې لږ ترلږه نيمه پېړۍ شخوند وهلی وو!

په تاند ووبپاڼه (۲۴جون۱۸) کې د ګران او هڅاندکامران منګل [د پښتو ژبدوديز (ګرامري) حالتونه] چې مايې له دودې ترمينالوجۍ سره سم(پښتونومپېرونه) کړل او لاتين اندول هم(The Pashto nominal cases)، د پښتو نوې سپېڅې (تشر يحي)، ياهممهالي (سانکرونيکي) ژبپوهني په تړاو يوه په زړه پورې سکا لو (مو ضوع) ده او ده تر ډېره ښه ترا ځېړلي. خو ماورسره، د اړوند برېښليک په راکړه ورکړه کې ژمنه کړې چې د کره کتنې په پلمه يې ګړسره يو بلونج (بديل) د يوې تخنيکي ډلبندۍ پر بنسټ د نړيجال (انټرنېټ) له لارې له ده او نورو مينه والو سره شريکوم.

پېر (حالت) څنګه پېژندلای شو؟

پېر (حالت case) د نوماوړون (اسمي ګردان) له درو اړخو (وجهو) څخه يو اړخ (وجهه aspect) دی؛ دوه نور يې ګڼه (عددnumber) او نوړی (جنس gender) دی

په دې مانا چې يو نوم په خپل چاپېريال (غونډ او غونډله کې) څه بڼه لري. له دې پلوه نومپېر له آره يوه غونډله پوهيزه (نحوي) سکالو ده، او له ګړ پوهيز (صرفي) پلوه يې هغه بېلګې پاموړ دي چې نوم ته اوښتې بڼه وربښي، لکه: (زمري) هندوا نه وخوړه؛ زريني ختکی وخوړ.[۳- پښويه ۹۵-۹۲]

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د نومپېر پېژندنښه د دغو دوو نورو د هغو غونډې يو خپلواک (واوېل) يا څپه ده چې تر ډېره په په يوه نوم (څيزنوم، ستاينوم، شمېرنوم او يا نومځري)، يايې په ستې پورې نښلي او له دې لامله يې نومپايله بولي،اويا يې هم د يوه ←خپلوا کونج په بڼه منځتاړی کېږي.

هرگوره، هر گرداني پياله له ټوليز هندواروپايي ژبني قانون سره سم په هرنوم پورې سيده نه نښلي، ياني که اړوند نوم پر خپلواکغږ پايته رسي، هغه غږ غور ځي، په بله وينا، په ريښې يا ستې پورې يې نښلي. د غورځن (حذف) ورته قانون په کړاوړون او وييرغاونه کې هم چلېږي.

نومپېر (اسمي حالت) پرخپل وار دوه رازه دی:

(۱) پښتو آر يا سيده نومپېر(اصلي حالت) يا (direct case) چې پر خپله آره بڼه وي او په دې توگه يې پېژندنښه يا پايله صفر ده، لکه: (ورى) او (ژوى) په دې غونډلو کې: ورى واښه خوري، ژوى غوښه خوري

(۲) اوښتى پېر (مغيره حالت Oblique case) د يوه نوم (هغې بڼې ته وايي چې په يوه غونډله يا متن کې د نحوي دويي (قاعدې) پر بنسټ يې راخپلوي، په نورو ټکو، خپله آره بڼه بدلوي او له دغه جو ليز بدلون سره پخپله دغه نومونه (اوښتي نومونه) نومول کېږي. پېژند نښې يا پايلې يې د نورو ژبوغونډې په پښتو کې تر ډېره د روستاړو بڼې راخپلوي او په دې ډول يې اوښتي نومپېر پايلې بولو،لکه(-ي) په (وري) او (ژوي) کې له دې بېلگو سره:

وري (واښه وخوړل) او ژوي (غوښه وخوړه). يا -زوَر(-a) پايله په (زمر-ه!) او په (مين-ه!) دغلته-ي (-i) پايله په تېرمهال کې د کړندپېر (فا علي حالت) يا (nom- inative case) ښکارندويي کوي او زوَر(-a) پايله د بلنپېر (ندائيه حالت) يا (vocative case).داهم يادوړ ده چې اوښتى پېر په بنسټيز ډول له څيزنوم او يا يې له وگړنومځري (شخصي ضمير) سره تړاو لري او دبدلون لامل کېږي يې او دوه نور نومډولونه (ستاينوم او شمېرنوم) يې د ټاکندويو (modifiers) په توگه ورسره هممهاله بدلون مومي، لکه په دې غونډلو کې:

يوه ښايستوکي واړه وري يا ورکي واښه وخوړل؛ يوه کمزوري زاړه ژوي غوښه وخوړه؛ هر راز نغوتنومځرى (اشاري ضمير) چې له څيزنوم سره يوځاى راځي، هم ورته اوښتى پېر راخپلوي. لکه،دې-دغه (-∂)-هغه(-∂)-هوغه (-∂) وري واښه وخوړل... ؛

د اوښتي نومپېر يوه کمه سلنه زورکي (-∂) پايله (ending) راخپلوي چې هممهاله ورسره يو← خپلواکونج* (واوېلي بدلون) ملگرتيا کوي،لکه د (ورون) اوښتي بڼه (ورانه ∂-wrĀn) کې چې په دغه نوم کې پر زورکي پايلې سربېره منځنى لنډ-و(-u-) هم پرالف (Ā) اوښتى. نوري ورته بېلگې: لړمون-لړمانه، پښتون- پښتانه، شپون-شپانه، يون- يانه، مېلمه-مېلمانه، ووړ-واړه،موړ-ماړه،زوړ-زاړه،کوڼ-کاڼه،کهول-کهاله،خوړ-خواړه...[پښويه -۹۲ ۹۶]

*منځ-خپلواکونج) په گردو اروپايي ژبپوهنيزو سيندونوکې يې الماني (Ablaut) بولي او ماريو-پاى (internal vocal change) مانا کړى،خو زموږ انډول يې جاج (مفهوم) ښه ترا راڅرگندوي.

رښتيني او سربلي اوښتي نومپېر ونه:

(The real &pre-positional nominal case)

(۱) رښتيني اوښتي پېرونه:

رښتيني تاريخي اتگوني هندواروپايي پېرونه چې په (سانسکريټ، يونا ني، لاتيني...) ژبو کې پېڅرک لگېدلى ،نن سبا له روسي او نورو سلاوي ژبو پرته، په نورو اوسنيو ژبو کې نيمگوري پاتې دي. رښتيني په دې مانا چې اړوندنومونه د صرفي- نحوي چار (کړن) په مټ اوښتي پېر راخپلوي، بې له دې چې په اړوند چا پېريال (غونډ، غونډله يا متن) کې ورسره نور توکي(وييونه ،وييکي ...) برخه واخلي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

(nominative-case) په دې غونډلو کې وینو چې څنګه یو کړند (فاعل) خپله بڼه اړولې ده:

(زمري) منه وخوړه؛ (پلوشې) اناروخوړ؛ یاد وګړي پرځای اړوندنومځری ورته

اوښتی پېر راخپلوي: ما کتاب ولوست؛ تا لیک و کېښ؛ ده کاروکړ،دې ډوډۍ پخه کړه... .

پښتوپه دې لړکې در ې پېره څه ناڅه ژوندي ساتلي دي: کړندپېر (فاعلي حالت nomi- native)،لنډکړی پېر (بېواسطه مفعولي حالتaccusative)، بلنپېر (ندايي حالت vocative).

۱- کړند پېر (nominative) چې دا پېر موږ تش په ارګاتیف (ergative) سېستم سهي کولای شو، په دې مانا چې په تېرمهال کې د یوه لېږند (متعدي) کړ د کړند نه، بلکې دکړي (مفعول) له مخې ګردانېږي او مفعولي پایله راخپلوي، خو تر سروونکی یا مرجع یې بیاهم (کړند) بلل کېږي اوبې له اوښتي پېرسره، لکه:

(زمري) منه وخوړه؛ (پلوشې) اناروخوړ؛ یاد وګړي پرځای اړوندنومځری ورته

اوښتی پېر راخپلوي: (ما) منه وخوړه؛ (تا) انار وخوړ؛ (ده) کاروکړ،(دې) ډوډۍ پخه کړه... .

۲- لنډکړي پایله (accusative)، د دغه پېر یوازېنی څرک موږ په دوو نومځرو(ما) او (تا) او بیا وسمهال کړاوړون کې اېستلی، لکه:

(ما) زمری وهي، (تا) زرمینه وهي؛ دغلته (زمری) او (زرمینه) دواړه د وهنې ترسر وونکي یاکړندان (فاعلان) دي چې آر پېرونه لري او (ما)او (تا) لنډ (بېواسطه) کړ یان چې آرپېرونه یې (زه)او (تا)دي؛ دلته کولای شو،د(زمری) پرځای هم ناوښتی نومځری (دی) وکاروو او د (زرمینه) پرځای ناوښتی (دا) ، لکه:(دی) ما وهي او (دا) تا. په زړه پورې داده چې دغه دواړه اوښتي نومځري (ما-تا) په تېر مهال کې کړندپېر لري او په وسمهال کې کړی پېر!

۳- بلنپېر (ندائیه حالت vocative) پښتو بیا په بشپړ ډول د نوږي (جنس) او ګڼې له پلوه له نومېرلو او جوتو (ثابتو) پایلو سره له نه اټکلېدونکي مهاله خوندي سا تلی دی. هرګوره، دویم یا نارښتیني ((←سربلي)) پېرونو په لړکې به یې بېلابېل ډولو نه او پایلې وړاندې شي.

(۲) سربلي (pre-positional)

سربلي (pre-positional ، وستربلي (post-positional) یاغبرګبلي (ambi-positional) چې پاتې نور پېنځه پېره ،لکه: لرکړی پېر (dative)،لا ملپېر (instro mentative)، تونپېر (locative)...سکینده (جبیره) کوي او تر ډېره یې پایلې له رښتینو نومپېر نښو او پایلو سره همرنګي لري.[۳ -پښویه ۱۱۲-۱۰۱]

الف - د نرینه اوښتي نومپېر نښې یا پایلې چې د بېلګو په ترڅ کې وړاندې کېږي:

(۱) -ي (-i) چې آرپېر (نرینه) پایله یې (-ی) ده: سړی-سړي،ژوی-ژوي، وری-وري، ورَی-وري، خوسی-خوسي،تندی-تندي...؛

(۲) -زورکی (∂) چې آره (نرینه) پایله یا نښه یې یو بېواک (-کنسوننټ) دی، په بله وینا، هر بېواکپای نوم یو نرینه نوم بلل کېږي، لکه: خر-خره، ور-وره، سور-سره (sr∂)، مل-مله، غل-غله ، کوږ-کاږه...؛

(۳) اوږد-و (-o) پر یوګړي ښځینه نومپایلې سربېره، یوه داسې اوښتي نومپېر پا یله هم ده چې د ټولو ډېرګړو نومډولونو تر منځ شریکه ده؛ تر بشپړ ډېری بریده له (-و) سره د خپلواکمنځونج Ablaut په ملتیا، چې د اوړون ډېرګړي نوم د منځني خپلواک،هغه هم زیاتره -الف- (-Ā-)، په ونج (بدلون)، لکه:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پښتانه پښتنو، شپانه-شپنو، غوبانه- غوبنو،مېلمانه- مېلمنو،کوربانه- کوربنو، واړه-وړو، سابه-سبو، خواړه- خوړو...؛ مېړيتانه-مېړيتنو چې د يوګړي (مېړ تون) پر مخبېلګه يې ډېرې رغاونې (پوهنتون، روغتون، درملتون،مرستون...) بيا،نه په يوګړې او نه په ډېرګړې بڼه له ورته خپلواکونج سره، ورته اوښتې پې پا يله را خپلوي، دليل ښايي، دا وي، څنګه چې پښتو د نورو ژبو په څېر (و)ګړنی پړاو نور تر شا پرېښی او له هره پلوه يې رغښت مخ پر سادګی درو مي؛کرلانې (مړستون) هم کېدای شي، د (مېړتون) هومره زوړ (ارکاييک) نه اوسي، ځکه او ښتی پېر يې دود شوی نه دی، نه په يوګړې او نه په ډېرګړې بڼه؛ لا داهم شوني ده چې له آره به (مړستان) وو او د (۱۹۰مز) لرغوني سکستان (سيستان) پر مخبېلګه ښايسه ډېر راروسته منځنی پښتو رارغولی وي اوکرلانيانواوسنی بڼې ته راړو لی اوسي! [پښتو او پښتانه...۶۱۵].

نوړنومونه (اسمای جنس mass nouns) له يو لړشمېر بېدوديو سره ډېر ګړيزه (-و) پېرپايله رخپلوي، لکه: غنم-غنمو،اوبه-اوبو،اوړه-اوړو،وربشې- وربشو، ږدن- ږدنو. درمل-درملو، پنسلين-پنسلينو، اکسيجن- اګسيجنو او د درملو په ګډون نور کيميايي څيزونه همدا پايله ترلاسه کوي. هو ، که په دغه ترڅ کې ځينې شمېرور وي،نو بيا بې اوښتې پايلې هم ويل کېدای شي ، لکه. د يوه انار بيه لس افغانی ده، د انارو يو کېلو ګرام شل افغانی ده،؛ د يوه پراسېتمول بيه لس افغانی ده ، د پرستامولو ډېر خوړل په کار نه دي،يا پراسېتمولو روغ کړم... [۳-پښويه ۹۷]

په سوېل-لوېديزه (کندهاري) ګړدو دي ډله کې د نورو درو پښتو ګړدودي ډلو پر وړاندې د ځانتني (منحصر بفرد) خچپوهيزې دويې (قاعدې) پر بنسټ خجلاندې اوږد-و (-o) تر بشپړ ډېري بريده پر لنډ-و (-u) اړوي،لکه په درختو (dráxtu)يا خلګو (xálgu)کې.

(ب) ښځينه اوښتی پېر نښې يا پېر پايلې چې له ډېرګړو پايلو سره همغږي لري:

-ې (-e)، داپايله په -زور (-a) پای ښځينه نوم پورې هله نښلي چې دغه نوړيزه پايله يې وغورځول شي (نه داچې د دوديز پښوپوهانو په خبره ، زور پر (-ې) واوړي!) ، لکه: کوټه- کوټې، خونه- خونې، ونه- ونې... ؛همداراز زورکيوال-و (-wə) پای ښځينه نومپېرپايله هم درواخله، لکه،کټو: کټوې، بړو-بړوې، غرو-غروې (سيمساره؛ تمساخ يا کوکوديل).

-ی پايله په -ي پای ښځينه نوم پورې هله نښلي چې دغه لنډه-ي وغورځول شي، لکه: بياتي-بياتی،ښادي-ښادی، خوشالي-خوشالی... .

د لابشپړ پوهاوي لپاره دا درې اخځه اړين دي:

م.ا.زيار: پښتو پښويه (ګرامر)- درېيم چاپ،دانش خپرندويه ټولنه . پېښور ۲۰۰۵ز.

Mario. Pei:A Dictionary of Linguistics, Frank Gaynor New York 1954 .

Ulrich, Winfried: Woerterbuch Linguistische Grundbegriefe. Verlag F. Hirt, Kiel. Wueryburg (Germany) 1972 .

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ